مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړه: سمسور ودان ۲۰۲۳/۰۱/۱۰

# د ښوونکي تنخوا

پابلو پیکاسو (Pablo Picasso) په هسپانیه کې زېږېدلی مشهور انځورګر او شاعر و، چې د (۱۸۸۱ – ۱۹۷۳) کلونو ترمځ یې ژوند کړی او یوه، یوه تابلو به یې په لکونو او کروړونو خرڅېدله.

یوه ورځ په سرک روان و، چې د کومې شوخې او ضدي نجلۍ نظر پرې ولګېده. ویې پېژاند، په منډه یې تر څنګ ورغله او پوښتنه یې وکړه: ښاغلیه! زه دې مینه واله یم، ستا رسامي مې خوښه ده، زما له پاره کوم انځور جوړولی شې؟

پیکاسو په موسکا وویل: زه دلته خالي لاسونه راغلی یم او هیڅ ډول سامان نه لرم؛ نو څنګه به درته انځور جوړ کړم؟

نجلۍ په ضد شوه او ویې ویل: زه همدا اوس انځور غواړم، خبره نه یم چې بیا به کله په ژوند کې سره ووینو که نه؟!

پیکاسو له جیب نه کوچنی کاغذ را وویست، په قلم یې څو کرښې وکښلې او په نیږدې ۱۰ دقیقو کې یې انځور جوړ او هغې ته ورکړ. نجلۍ ته یې وویل: ته په بازار کې په دې انځور یو میلیون ډالر ګټلی شې.

نجلۍ حیرانه شوه او له ځان سره یې وویل: پیکاسو په دومره تلوار کې انځور جوړ کړ او اوس راته وایي، چې یو میلیون ډالر پرې لاسته راوړلی شې!

نجلۍ کور ته راغله، فکر یې کاوه چې پیکاسو غلطه کړه. کله چې بازار ته لاړه او د هغه د انځورونو بیه یې وپوښتله، حیرانه پاتې شوه. دواړې په پیکاسو پسې ورغله او ورته ویې ویل: ښاغلیه! تا سم ویلي و؛ د دې تصویر بیه نیږدې یو میلیون وه.

پیکاسو وموسل: دا خو مې مخکې هم درته ویلي و.
نجلۍ بیا وویل: آیا ته مې په شاګردۍ نیولی شې؟ چې ما ته انځورګري را وښیې؛ څکه زه په ۱۰ ساعتونو کې ښه انځور جوړولی شم؛ خو په ۱۰ دقیقو کې ناممکنه ده. غواړم داسې مې تیاره کړې چې انځور ستا په څېر ژر، ژر جوړ کړم.

پیکاسو ځواب ورکړ: دا انځور چې په ۱۰ دقیقو کې مې درته جوړ کړ؛ د دې په زده کولو مې ۳۰ قیمتي کلونه لګولي.

نجلۍ په خپل ځای حیرانه ودرېده.

خلاصه :

د یو ښوونکي د هرې جملې تر شا د کلونو مینه او زحمت وي. هر تن ویلی شي، چې استاذان په اسانه تنخوا اخلي؛ مګر کله چې دی د تختې مخې ته ودرېږي او زده کوونکو ته ۴۰ دقیقې ګټور لیکچر ورنکړای شي؛ بیا پوهیږي، چې د ښوونکي مقام ولې باید لوړ وي؟!!

ژباړه

سمسور ودان



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څېر و لولئ